

فرزاد کمانګر

تلپاتی ښوونکی

ژونده، یا خو به درڅخه تیر شم
یا به دې په آزادۍ سینګار کړم

لیکونکی: جنګاور باهوز

انتشارات محسن
Mohsin Publications

فرزاد کمانګر، تلپاتې ښوونکی

لیکونکی:جنګاورباهوز

ژباړه او ډیجیټال خپرونکی: محسن خپرندویه

برېښنالیک: mohsinpubs@gmail.com

وبلاګ: http://mohsinpubs.blogspot.com

د خپروني نېټه: د۱۴۰۲ کال غبرګولی میاشت / ۲۰۲۳ کال جون میاشت



فرزاد کمانګر

ژونده، یا خو به درڅخه تیر شم، یا به دې په آزادۍ سینګار کړم



لومړۍ برخه

له یو اتل سره پېژندګلوي

۱۳۸۸ کال و چې زه يې د مهاباد له زندان څخه اوين زندان ته ولېږلم. د ماشومتوب په دوران کې مې خو ځله ددې زندان نوم اورېدلی و خو هيڅ فکر مې نه کاوه چې يوه ورځ به ما دلته راوړي. هغه هم په داسې حالت کې، د سپاه څلور مامورانو په ځناوريزه توګه زما لاسونه، پښې او سترګې وتړلې لکه يو حرفه‌ای وژونکي سره چې مخ وي. هغوي غوښتل چې په همدې تړلي لاسونو زما څخه د خپل ټول عمر عقده وباسي. بيچاره عقديان!

اوين ډير غټ زندان و او زه نه پوهيدم چې زمونږ څو تنه ملګري دلته دي؛ خو له هغه ځايه چې دې زندان ته د خپل راوړلو په دليل نه پوهيدم، د هوښيارۍ له امله مې ډير پام کاوه. تر هغې چې شاوخوا چاپيريال، زندانيان او زندانوالا وپېژنم او په آرامه فکر د خپلو ملګرو په اړه وپوښتم. له شلو ورځو وروسته له حسن سره بلد شوم، هغه هم زما په څير کُرد او په اوين کې بندي و. له حسن څخه مې د فرزاد کمانګر په اړه وپوښتل.

ما تر هغه وخته پورې ملګری فرزاد نه و لیدلی، خو د هغه نوم مې د نیول کیدو په وخت کې اوریدلی و او هو! په کوهستان کې د یو وخت لپاره د هغه له ورور سره په یو سنګر کې وم. پوهیدم چې په یو خبرجوړونکې څیره بدل شوی ده. حسن وویل: هو پېژنم یې، ډیری وخت کتابتون کې وي او کتاب لولي. ومې پوښتل کولای شم هغه ووینم؟ حسن په ډاډ سره وویل: ولې نه، همدا اوس ورپسې ورځم. هغه څو دقیقې چې د فرزاد راتلو ته په تمه وم څه یو ښه حس و. خپل ټول ذهني فکرونه مې د سترګو تر وړاندې تیریدل. لوړ قد لرونکی سړی له پلنې تنې سره چې بریتونه یې زمونږ په اصطلاح شخ شخ تاو کړي او د هغه څیره نوره هم قهرجنه ښکاره کوي. د هغو څو شیبو انتظار لیکلو لپاره څومره د تورو کمښت احساسوم!

حسن مې ولید له یو ځوان سره راروان ده چې بیخی زما د تصوراتو خلاف و. یوه نازکه څیره پر شونډو یې مسکا چې پر مخ یې مهرباني له ورایه ښکاریده. داسې مسکا چې ما ته یې آرمتیا راکوله. په مینه یې په غېږه کې ونیولم او ویې ویل: چیرته یې هلکه، دا شل ورځې کېږي چې تا پسې ګرځم، «روژ تلویزیون» راپور ورکړی و چې ته یې اوین زندان ته راوړی یې، له هماغې شیبې تاپسې ګرځم خو هیڅ مې پیدا نکړې. د ځان د نه ښکاره کولو دلیل مې ورته وویل او دا چې په تمه وم له هغه سره د لیدو لپاره مناسب وخت پیدا کړم.

مونږ د اوین زندان په اووم بند کې وو. اووم بند درې پوړه او شپږ سالونونه لرل چې فرزاد په شپږم سالون کې و او زه په اول سالون کې. نورو سالونونو ته د بندیانو تګ راتګ بند و خو مونږ د موکې په لټه کې وو چې وکولای

شو یو بل سره وګورو. له فرزاد سره لیدو لپاره د موکې په لټه کې زه د ماشومتوب دوران په یاد کې ډوبولم چې څومره په مینه او ولوله به د لوبې ملګرو پسې ګرځیدم!

څومره خوښ یم چې له هغه ښوونکي سره بلد شوم چې په لیکونو کې د آزادۍ غږ د ټولو په ژبه ده. فرزاد راته د خپلو ربړونو په اړه وویل او د کرمانشاه، سنندج او اوین په بندخونو کې د خپلو ربړونکو په اړه، او چې څرنګه یې مقاومت وکړ او ربړونکي یې پوزې ته راوستي و؛ او هغه مهال مې وکولای شول چې څومره ښه دا احساس کړم چې هغه دا درد په ښکلو ټکو په خپلو لیکونو کې لیکلی و. هغه لیکونه چې په مینه مې د هغه له خولې اوریدل.

پوهیدم چې علي حیدریان له کد سوران سره د اوین په زندان کې ده. علي مې له ۲۰۰۴ کال څخه چې په کوهستان کې وم پیژنده. د هغه پته مې له فرزاد څخه واخیستله. فرزاد وویل: علي په شپیږم سالون کې ده. څومره مې غوښتل چې هغه وګورم. یوه ورځ پر خپل کټ په لوستلو بوخت وم چې د سالون له غږجګي (لوډ سپیکر) مې خپل نوم واورید، هادي اميني. کله چې له کوټې راووتم علي مې ولید. نشم کولای خپلې خوښۍ ته نمبر ورکړم یا یې کچه ووایم، ښایي د مور د زړه په اندازه. نه، ښه به دا وي چې ووایم ډیر زیات. علي هیڅ نه و بدل شوی، هماغه و چې ۵ کاله وړاندې مې لیدلی و. ګواکې په دغو کلونو کې زما څېره بدله شوې وه چې علي ونه پیژندم. خو هغه مهال ما د ځای او کلیمو د تعریف په نه ثابتوالي ایمان راوړ. هر بد خیز تر پایه بد نه وي. په دغه شیبه کې د اوین زندان زما لپاره د نړۍ تر ټولو ښایسته ځای و. ما وکولای شول خپل پخوانی

ملګرې دلته ووينم.

په زندان کې اجازه نه راکوله چې مونږ له يو بل سره ووينم خو آيا کيداى شي چې د ملګرو د ليدو دومره تلوسه له پامه وغورځوو. يوه ورځ مو يوه ليدنه په چل او ول جوړه کړه. له علي مې اوريدلي و چې په زندان کې ځان د کيندن کارۍ په هنر بوخت کړى ده؛ او ما به ډيرى وخت کتاب لوستلو. يوه ورځ علي په بيړه راغى او ويې ويل چې زه يې غوښتى يم او بايد ولاړ شم. دې خبرې زما په زړه کې بلوا جوړه کړه! پوهيدم چې د هغه، فرهاد او فرزاد د اعدام حکم صادر شوى ده. په بيړه مې ځان فرزاد ته وروړساوه. خبر مې ورته وويلو. د فرزاد آرامتيا د ستاينې وړ وه. د تل په څير يې په يوه ښکلې موسکا سره وويل، د انديښنې ځاى نده که د اعدام خبره وى، درې واړه يې يوځاى وړلو. له ډيرې انديښنې لاس او پښې رانه ورکې وې. له زندان نه بهر مې اړيکه ونيوله او ومې ويل چې علي يې ناڅرګند ځاى ته وړى ده. د خوشالۍ په څير د خپګان ښکاره کولو لپاره هم شميره نشم پيدا کولى.

چې شپه شوه، علي بيرته راستون شو. ملګري مې زما دنه‌ننۍ توپان حس کړى و. د بنديز سربيره زما ليدو ته راغى. ويې ويل، بيرته راستون شوم. له علي سره د هغې شيبې ليدنه يوازې دا متل څرګندولى شي چې وايي لکه په اور چې اوبه واچوې. پرته له ځنده مې د هغه د وړلو علت په اړه وپوښتل. ويې ويل: له ما څخه يې وغوښتل چې مرکه وکړم او کنه اعدام به شم. د علي ځواب اوريدو ته ناکراره وم. ويې ويل: ما هم وويل هغه لاره چې ما ټاکلې، په هغې لاره تللو لپاره بايد له مرګ ويره ونه لرو، زه هره شيبه هغه مرګ ته چمتو يم چې ډالى يې آزادي ده.

اعـدام تـه انتظـار پـه علی او فزراد کې د ژوند سـره مینه نه وه کمـه کړې. فرزاد ډیـر کوښـښ کاوه او ځـان یې د ماسـټرۍ آزموینې ته چمتـو کاوه او علي هم غوښـتل چې د ډیپلوم لپـاره آزموینه ورکړي.

پـه زنـدان کـې د فـرزاد، فرهـاد او علـي هڅـه، مهربانـي، متانـت او زغـم د زندانیانـو پـه منځ کې د هغوي سـره مینه دوه چنده کـړې وه. کرغیړن بندیوان پـه دې ښـه پوهیدلـی و؛ هغـه د تـل پـه څیـر هڅه کوله چې له نـورو زندانیانو سـره ددوي اړیکـه محـدوده کړي. داسې نه چې نور هـم ددوي د فکر او خبرو پلویـان شـي. مونـږ هـر یـو یـې د مالـي بندیانـو پـه برخـه کـې وویشـلو تر څو زمونـږ د لیدنو مخه ونیسـي.

هغـه مهـال د «شـین غورځنـګ» لاریونونه ول. ډیر شـمیر بندیان په سیاسـي جـرم اویـن تـه راولیـږدول شـول. لـه فـرزاد څخه مې واوریـدل چې یـوه ورځ د همـدې زندانیانـو لـه ډلـې یـو فـرزاد تـه ویلـي و چـې ته ترهګـر یـې. د فرزاد خـواب څومـره غاښ‌ماتونکـی او ښایسـته و. فـرزاد په ځواب کـې ورته ویلي و «شـین‌والی» مهـم نـده، شـین فکـر کـول مهـم دی. شـین فکر کـول د فرزاد عـادت و؛ او دا واقعیـت مـا تـه او نـورو زندانیانـو تـه بیخـي لکه لمر روښـانه و. کلـه مې چې لیـدل فـرزاد د خپلو خلکو سـره د خواخوږۍ پـه موخه لوږه تیـروي. لیـدل بـه مې چې په څومره مینه به له نوی بندیانو سـره مرسـتي لپاره ورتللـو؛ او دا کارونـه د اطلاعاتـو جلادانـو لـه سـترګو پټ نـه ول. هر پنځلس ورځـې ورسـته بـه یـې هغه غوښـتلو؛ او ګواښـلو به یې چې لیـک و نه لیکي. خـو څرنګـه چـې خپلـه بـه ویلـې اوس هـم اړتیـا ده چـې لیکونه یـې خلکو ته ورسـیږي. پـه کومو تورو د هغه زړورتیا وسـتایم. سـتا د سـتایلو لپـاره توري راسره نشـته ای اتله!

اووه میاشتې مو په یو بند کې سره تېرې کړې. یوه ورځ یې ناځاپه زه او فرهاد د اوین ۳۵۰ بند ته ولېږلو. هغه ورځ چې هر څومره فرزاد پسې وګرځېدم پیدا مې نکړ چې لږ تر لږه مخه ښه مې ورسره کړې وای. ښه شوه چې علي مې ولیده. کلک مې په غېږه مې ونیوه. داسې بریښېدل چې زمونږ وروستۍ لیدنه ده. علي ته مې وویل چې فرزاد ته ووایي څومره مې غوښتل چې ویې وینم. زه او فرهاد یې له ملګرو بېل کړو. له ملګرو بیلتون څومره سخت ده، لکه د یوې اندیښمنې مور زړه. د غویې ۱۹ ، هغه کرغېړنه ورځ چې زما ملګري یې د تل لپاره زما څخه واخیستل. د زړه غوغا له لوړې سره پیوند کوم. قسم خورم چې د ژوند تر پایه به ستاسو لارې ته ادامه ورکړم. زما فرزاده، ارامه ویده شه، ستا دنده به پر مخ بیایم آن که د ښوونې ټولګي دې د کردستان غرونو په غارونو کې ونیسم. د څېړۍ هرې ونې لاندې ټولګی جوړوم چې آزادي او انسانیت پکې درس ورکړم.

ستاسو لاره به تلپاتې وي!

دویمه برخه

د اعدام ګهیځ

ټول وجود مې یو ستر غم پوښلی و. داسې لکه بل ناورین چې راروان وي. د مازیګر پنځه بجې د زندان تلفونونه بند شول. د تلفونونو بندیدلو د اعدام خبر راکاوه او ددې لپاره چې خبر له زندان څخه بهر ته درز ونکړي.

د غوبي اتلسمه وه. د لمر پریوتل او د بندیانو سرشمېرنه، ټول یې وشمیرل، یو، دوه، درې... یو نفر کم و...

د سرشمېرنې مامور هغه لوړ او ناولی غږ چې زمونږ د ملګري فرهاد وکیلي نوم یې اخیستلو... ټول بدن مې ولړزیدو! د ملګرو په سترګو کې اندېښنه له ورایه ښکاریده. زمونږ اندیښنه له هاغه ځایه ډېره شوه چې پوهیدلو ملګري فرزاد په یوه تلفوني اړیکه کې خپلې کورنۍ ته ویلي و چې هره شیبه شونې ده چې زما د اعدام حکم اجرا شي.

د اوين ۳۵۰ بند

د غويي ۱۹ څخه څو ورځې وړاندې و. ښه مې په ياد دي چې له ملګري فرهاد سره مې د زندان په انګړ کې قدم وهلو. فرهاد غوښتل چې د خپل اعدام په اړه وغږېږي، خبره مې ورپرې کړه... د ملګري اعدام مې... نه مې په باور کې ځايدو او نه راته د منلو وړ و. څو ځله يې وغوښتل خبرې وکړي او هر ځل ما بحث بدلولو.

د انتظار ورځې

هر کله به چې ساتونکي د فرهاد نوم اخيسته، ليدل به مې چې فرهاد به په بيړه ځان سينګاروه. دليل مې ورڅخه وپوښت. په موسکا او وقار سره يې وويل: هر کله چې له لوړغږي څخه خپل نوم اورم بې له ځنډه د اعدام شيبه مې په ذهن کې انځورېږي، غواړم چې منظم او چمتو اوسم. پرېږده چې دښمن په خپله غوړيدلې او خوشاله څېرې سره وپوهوم چې زه په ولاړه مرم او په وياړ سره خپل ځان د آزادۍ په لاره کې قربانوم؛ او په موسکا سره يې ادامه ورکړه: او که زما جسد يې زما کورنۍ ته وسپاره، غواړم هغوي وپوهېږي چې زه څومره هيله‌من وم او له ژوند سره مې مينه لرله او په ويره او تشويش د اعدام خواته لاړم.

يو ځل له محکمې څخه سياسي بند ته يو هيئت راغلی و او له فرهاد څخه يې غوښتي و چې پښيماني وښايي او د بخښنې غوښتنه دې وکړي چې د اعدام حکم يې لغوه شي؛ خو فرهاد په ډيره غوسه قاضي ته وکتل او ويې ويل: د دار پړي ته هرکلی وايم او له خپلو کړنو څخه چې آزادۍ ته

رسیدل دي پښیمانه نه یم، بیه یې هم هر څه چې وي پرې کوم یې، سر په دار کوم خو ذلت او خواري نه منم...! قاضي په غوسه له خپل ځای څخه پورته شوې و او په بیړه له زندان څخه وتلی و...

له ژوند سره د فرهاد مینه، د هغه د ژوند ملګرې، بچو، ښځ او پولې پټې په اړه د هغه له خبرو ښکاریده چې تل به یې په دې هکله خبرې کولې. د خپل اولاد د لیک په اړه یې داسې په شوق خبرې کولې چې هغه سرکال په لومړی ټولګي کې ده او هیله لري چې بیاځلې خپل پلار ووینې او د هغه لومړنی خبره په کوردي ژبه «نه» یې په فارسي ژبه «بلکه» ژباړله چې هغه ته یې خپل احساسات بیانول.

فرهاد له دې شعار سره: «ژونده، یا خو به درڅخه تیر شم، یا به دې په آزادۍ سینګار کړم» بیا ژوند کول په خپل وجود کې ځای پر ځای کړي و. تل به یې ویل ژوند ښکلی ده او له کورنۍ سره ښکلي ژوند کولو سره مینه لرم. خو موخه مې «آزادي» له هر څه راته ازښتناکه ده.

د غویي نولسمه شپه،
داوین په ۳۵۰ بند کې د چوپتیا شیبه

په بند کې د چوپتیا او ساه‌تنګۍ فضا حاکمه وه. له سر شمېرنې وروسته هیچا ډوډۍ ونه خوړه. یو د څادر لاندې پټې اوښکې تویولې، بل به له ډیر تشویش څخه خپل نوکان خوړل... زما اندیښنه یوازې زما د خپل بند لپاره نه وه. زما اندیښنه دوه چنده کیدله کله به چې په اووم بند کې د ملګرو (فرزاد کمانګر، علی حیدریان)، د ښځو بند کې (شیرین علم هولي) او

په ۲۰۹ بند کې د (زينب جلاليان) په فکر کې ډوبيدم چې ټول په اعدام محکوم ول. په دې پوهيدلم چې شيرين، فرزاد او علي يې انفرادي خونو ته وړي دي.

د ښځو په بند کې شيرين يې په دې پلمه چې د پلار نوم يې غلط اخيستی له بند څخه بهر وړې وه. وامې وريدل چې شيرين يې بهر ته د وړلو پر مهال ټيل وهلې وه. شيرين پوهيدله چې د ژوند وروستۍ شپه يې ده، په لوړ غبر چې د مبارزې روح پکې نغښتی و، د شيرينۍ په خير يې چيغه کړې وه چې لږ تر لږه ماته وخت راکړئ چې جامې واغوندم، داسې نه چې له سړو څخه زما د بدن لړزه تاسو له مرګ څخه زما ويره کې حساب کړئ او يا لږ موکه راکړئ چې له خپلو ملګرو سره مخه ښه وکړم؛ خو هغې يوازې دومره وخت لرلو چې له اوښکو ډکو سترګو سره خپلو ملګرو ته وکوري، د هغې د دوه هم‌بندانو اعدام حکم هماغه ورځ لغوه شوی و.

نن شپه داسې شپه ده چې د بيان لپاره يې توري نلرم، نه پوهېږم چې ساعت ولې دومره وروګرځي، ولې وخت تم شوی ده! ولې دا شپه نه ختمېږي. څومره مې هيله لرله چې اوس مې کولای شول تاسو ته يو کار ترسره کړم. څومره مې زړه غوښتل چې په لاسونو دغه لعنتي څلورديوالي ويجاړه کړم او ځان تاسو ته دوررسوم. څومره مې غوښتل چې له اعدام څخه ستاسو خلاصون لپاره مې يو کار کولای شوی. د عاجزۍ دا احساس څومره بد ده. نه پوهېږم چې ولې نن شپه ځمکه او آسمان له ماسره همغږي نه دي. نه پوهيږم ولی زړه مې يوه شيبه هم نه غوليږي. نن شپه مې څو ځله په کراره ورته وويل چې دا هم د تېر په څير د اعدام يوه سناريو ده، خو غوږ نه نيسي!

د نن شپې چوپتیا ولې دومره درنده ده! هوا ورو ورو روښانه کېږي. غوږ مې د کوټې کوچنۍ اشداري خواته نیولی په دې هیله چې هیڅ آواز وانه ورم. په ګهیځ کې د نابلده غږونو اوریدل، د یو بل ژوند د پای خبر ورکوي. هیڅ غږ نشته! کله کله چوپتیا څومره ښه وي! زما له همبندانو څخه څو تنه ټټۍ ته د تګ په پلمه بهر لاړل. کله چې بېرته راستانه شول ویل یې چې نن ګهیځ د پنځو تنو د اعدام خبرې کیدلې. څومره یو عجیب حس په بند کې واکمن و! نور چا د خبرو توان هم نه لرلو. د دوه بجو خبرونو د پنځو واړو نومونه واخیستل. فرزاد کمانګر، شیرین علم هولي، فرهاد وکیلي، علي حیدریان او مهدي اسلامیان.

ټول ملګري اعدام شول!

زما ملګریه فرهاده! څرنګه کولای شم هغه ورځ هیره کړم چې ستا شخصي وسایل یې را ټول کړل ترڅو ستا کورنۍ ته یې ورکړي. هغه ورځ چې ستا د ځوی هوراز لیک په ناڅاپي ډول زما لاس ته راغی. هغه لیک چې څو وارې تا په مینه د هغې په اړه راته ویلي و او له هغې سره تا ژوند کړی و! هوراز په خپل لیک کې لیکلي و « په دې هیله چې ډیر ژر راخلاص شې بابا» او ما هغه شیبه څومره هیله لرله چې کاش ستا پر ځای زه اعدام شوی وای او ستا د وړوکې فرښتې سترګې ستا په لیدو آرامه شوی وای. علي جانه، ته هم نه یې چې ستا آرامه څیره، زما توپاني زړه د یوې شیبې لپاره آرامه کړي. شیرین جانې، آن د ښځو بند ته زما سلام درلېږلو حق یې هم راڅخه اخیستي و. د آزادۍ، مینې او ژوند د دښمنانو زړونه څومره ناولي او کرغېړن دي! د مینې او پاکۍ ښوونکیه مهربانه فرزاده، تا ولې

په دې شپه کې یوازې پرېښودم! ته خو پوهیدلې چې کله به دې په خپل ښکلي غبږ کې خپل لیک لوستلو ماته یې څومره آرامتیا راکوله. زه ستا برغ، ښکلې او آرام‌بخښونکې موسکا او ژوندبخښونکې لیدو ته اړتیا لرم.

زما ملګرو، د آزادۍ لارې ژوندي شهیدانو، ستاسو د اعدام ورځ انسانیت ته زما د لوړې ورځ وه. ما په انسانیت په آزادۍ په شرف او ستاسو په وینه لوړه کړې چې د آزادۍ له دښمنانو څخه به خوب تښتوم. تر هغې چې ژوندی یم ستاسو لارې او ژمنې ته به ادامه ورکوم. یوه شیبه به هم له هڅې لاس وانخلم تر هغې مې چې ستاسو رسالت تر پایه نه وي رسولی او یا به ستاسو په څېر په اتلولۍ د آزادۍ په لاره کې ځان قربان کړم. زه تاسو ته او هغوی ته چې د آزادۍ په تمه دي زیری ورکوم چې همدا اوس په زرګونو ملګري (هەوالان) زما په څېر د کردستان په لوړو غرونو کې ستاسو لارې ته ادامه ورکوي. غرونه ستاسو د ملګرو له پولادي عزم څخه حیرانوو؛ او ستاسو د آرمانونو دښمنان پښېمانه کوو.

د هغې شپې خاطرات مې تل په ذهن کې آزانګه کوي... په مخه مو ښه ملګرو.

انتشارات محسن
Mohsin Publications